# په شور کښې یو معمولي اواز




په تېر پسې

واکسرے په یو کم دیرشم جون ګاندهي شملې ته د ملاقات دپاره را اوغوښتلو او ورسره ئې خبرې اترې وکړې. ګاندهي په ړومبۍ جولائي د ډیلي نه لیکي:

ړومبۍ خبره چې د هر چا دپاره د غور کولو ده دا ده چې ایا د برطانیې په حکومت کښې دننه خپلواکي اخستل پکار دي اوکه نه؟ که دا خبره اوس ظاهره شوي نه وي نو د جنګ په ختمېدو به ټولو ته په ډاګه شي چې که برطانیه فتح ترلاسه کړي او که ور ته شکست ورکړے شي په دواړو حالاتو کښې به ئې هم هغه حیثیت پاتې نۀ وي کوم چې د تېرو څو سوو کالو نه را روان دے. ولې دا خبره یقیني ده که برطانیه شکست هم خوري نو په باعزته طریقه به وي. که برطانیه شکست خوري نو د دې مقصد به دا وي چې که هر څومره لوئې طاقت هم وي هغه به د ماتې نه ځان نه شي بچ کولے. ولې د فتح په حالت کښې به داسې نه وي. دا به هغه ټولې طریقې اختیاروي کوم چې یو استبدادي مملکت د نوي دور طریقو استعمالولو سره خپلولے شي. زۀ دا په ډېر افسوس سره وایم چې انګریز سیاستدانانو هغه څه اونه کړل د کوم سره چې دوي د کانګرس اخلاقي مرسته ترلاسه کولے شوه. د دې الزام د برطانیې په سیاستدانانو په دې وجه نه شي لګېدے چې دوي د کانګرس د مرستې هډو ضرورت نه محسوسولو. شاید چې دوي هغه اخلاقي مرسته ترلاسه کول نه غواړي د کومې چې ما حواله ورکړې ده. بهرحال هر څه چې وي وي به ولې زۀ په دې خبره رسېدلے یم چې هندوستان ته دا وخت د مکملې آزادۍ مقصد ځان ته ټاکل پکار دي. دا د الفاظو خوړلو وخت نۀ دے او نۀ د خیالاتو پټولو وخت دے. زما په خیال د هندوستان سره د مکملې آزادۍ نه بغېر د نجات او خلاصي بله لاره نشته. هیڅ یو قام تر هغه وخته ازادي نه شي ګټلے تر څو چې ئې خلق مبارزه اونه کړي. بهر حال کانګرس د وړاندې نه دا اراده کړې ده که

هـنـدوسـتـان د بـرطـانيې سره څـه لاس امداد کول غـواړي هم نو پکار ده چې دا د خپلواکه هندوستان د طرفه وي.

بله خبره د خارجه زورګيرئ يا د اړې ګړي د حـالاتـو د تـابيا کولو ده. نو د دې به په هيڅ حال اجـازت نه شي ورکولے. هيڅ يو حکومت او طاقت د ذاتـي مـد فـوځ او ملېشا نه شي زغملے بې شکه کـه دا حکومت غير ملکي وي او که ملکي. څوک چې پـه دې خبـره يقين لري چې د هندوستان دپاره بـه د فـوځ ضـرورت وي هـغـه دې خپـل نومونه د انګـريـز پـه فوځ کښې درج کړي. نو دا به د دوي د مـوقف مـنـطقي انجام وي. کارنده کميټئ په دې مـعـامله فېصله ورکړې ده که څوک غواړي نو په دې عـمل کولے شي. په دې کښې زما لږ شک دے چې کـه کميټي کانګرس ته دا مشوره ورکړي چې خلق دې د معمول مطابق په فوځ کښې بهرتي شي نـو دا بـه پـه حـقيـقـت کښې د صحيح عدم تشدد ختـمـول وي. زۀ د دوي د هـنـدوستان پـه خپلـه د بـرطـانيې،بشريت او کانګرس د ښېګړې دپاره تر آخر وخته پورې په دې اميد کښې يم چې داسې به اونه شي او د دې دواړو مقصدونو دپاره به د وسلې اسـتـعـمـال اونـه شـي. زۀ پـه دې يقين لـرم چې دانسانيت مستقبل د کانګرس په لاس کښې دے. الـلـه پاک دې کانګرس ته پوهه او حوصله ورکړي چې صحيح قدم پورته کړي.

پـه دريـم جـولائـي ګاندهي د برطانيې هر وګړي تـه خپـل مشهـور خـواست شايع کړو چې د قـامـونو ترمېنځه د شخړو او نورو معاملو دپاره د جـنـګ پـه ځـائې د عدم تشدد لار اختيار کړي. دۀ اووې زۀ خـواسـت کـوم چې د جنګ نه لاس په سر شـئ او دا کار په دې وجه نۀ چې ګني تاسو د جنګ نـه ستړي شـوي يئ ولې پـه دې وجـه اوکړئ چې جنګ په حقيقت کښې يو خراب شے دے. زۀ تاسو تـه يـوه زيـاته باعزته او د زيات دليرانو سپاهيانو لاره ښـايـم او هـغه د عدم تشدد لاره ده. زۀ غواړم چې تـاسـو د نـازي ازم مـقـابـلـه د وسلې نه بغېر اوکړئ. زۀ بـه دا پـه فـوځـي اصلاح کښې داسې اووايم چې تاسو د نازي ازم سره جنګ د عدم تشدد پـه وسـلـه اوکړئ. نۀ به تاسو ته دا خواست اوکړم چې هغه وسلې اوغورزوئ کومې چې د انسانيت د تـحـفـظ پـه کـار کښې بې کاره ثابتې شوي دي. تـاسـو هټـلـر او مـوسـولـوني ته بلنه ورکړئ چې راشـئ زمـونږ په ملک کښې چې تاسو څه غواړئ هـغـه واخـلـئ. دوي سـتـاسـو ښکلي ملکونـه او جـزيـرې او ښـائسـتـه عمارتونه قبضه کولے شي. ولې ذهنونه نۀ شي غلام کولے. که دوي ستاسو په کـورونـو قبـضـه کـول غـواړي تـاسو ئې ور تـه پـرېږدئ. کـه دوي تـاسـو ته د وتو لاره نه درکوي تـاسـو خپل ځانونه، ماشومان او زنانه قربان کړئ ولې د دوي غلامۍ ته غاړه مه ږدئ.

د کـانگرس د کارنده کمیټې یوه غونډه د جـولائـي پـه دریم تاریخ ډیلي کښې اوکړے شوه. مـولانــا آزاد خپـل تـقریر کښې اووې چې مونږ د خـارجـه نړۍ د اړې ګړي د لاسـه ځپلے کېږو. او د دې نـه زیـاتـه د پـرېشـانـۍ او فکر خبره زمونږ په خپـلـو کښې اختلاف دے. که چرې هندوستان یو آزاد مـلک وے نـو مـا بــه د کانګرس د صدر پـه حیثیـت د جـمهـوري موقف ښه مضبوطه مرستـه کـوله ځکه چې مونږ د هندوستان خلق د جمهوري مـوقف سره ټینګ ولاړ یو. ولې په دې لاره کښې لـوئې خنډ د هـنـدوسـتـان خپله غلامي ده. ولې د ګـاندهي جي خیال بل شان دے. د دۀ په خیال خبره د غیـر متحرک پاتې کېدو ده او د آزادۍ ګټلو نۀ ده. زۀ پــه ډاګــه دا وایـم چې کــانګـرس یو غیـر متــحـرک نۀ ولې د مـلک دپـاره د خپلواکۍ ګټلو تــنـظیـم دے. ګاندهي چې کومه نُکته پورته کړې ده زمـا پـه خیـال د دې جواز نشته. ولې دے خپل مـوقف نۀ بـدلـوي. دے پــه دې رسـېـدلے دے چې هندوستان ته په هیڅ حالت کښې هم برخه اخستـل نۀ دي پکار.

زمـا پـه خیـال عدم تشدد پالیسي ده ولې عـقیـده نۀ ده. زما خیال دا دے چې کۀ څه بله لاره نۀ وي نـو بیـا هندوستان ته به توره په لاس کښې اخستـل وي. ولې کـه پـه پُـرامـنـه طریقه په څه حالاتو کښې هم آزادي ترلاسه کېدے شي نو دا به یـوه بـاوقـاره لاره وي او د ګـاندهي لار به صحیح وي.

د کـانګـرس کـارنـده کمیټې په دې بنیاد مسـئـلـه تقسیم ده. جواهرلال نهرو،سردرا پټېل، راجه ګوپال اچاریه او عبدالغفار خان شروع شروع کښې زمـا د مـوقف پـره کـولــه او راجـندرپرشاد اچـاریـه کـرپـلاني او شکر راؤ دیو د ګاندهي سره ولاړ وو.

دوي دۀ سـره په دې خبره صلاح وو چې که دا خبـره یـو ځـل اومنلے شي آزاد هندوستان به په جـنګ کښې بـرخـه اخـلي نو دې سره به د آزادۍ دپـاره د بهـارت د عدم تشدد په بنیاد مبارزه ختمه شـي. زمـا دا خیـال دے چې د آزادۍ مبـارزه بېل شے دے او د آزادۍ ترلاسه کولو نه پس جنګ بېل شـے دے. دواړه خبـرې یو بل سره خلط کول نۀ دي پـکـار. کـارنـده کـمیټې ښـه پـه آزادۍ سره پـه سیاسي حالاتو تفصیلي خبرې اترې وکړې.

(جاري دے)

☆☆☆